# د رسنيو د آزادۍ په پيغام کې سرمنشي پر ټولو ټولنو غږ کړی چې پر ژورناليستانو باندی د بريدونو د عاملانو د عدالت منګولو ته د سپارلو په لاره کې له هيڅ ډول هلو ځلو څخه دريغ و نه کړی.

د رسنيو د آزادۍ د ورځې لپاره چې د مۍ د مياشتې په دريمه نېټه لمانځل کيږي د ملګرو ملتونو د سرمنشي بانکي مون پيغام په لاندې ډول دی:

د ټولنې د ځوان قشر د روزنې څخه تر د ټولو ښاريانو په سياسي مشرتابه کې د پوره ګډون لپاره معلوماتو ته رسيدنه موږ هر يو ته دا ځواک را کوي چې خپل ژوند او ټولنې ته بدلون ورکړو. لکه څنګه چې اوبه د ژوند د ودې لپاره ضروري دی، پوهه زموږ ظرفيت لوړوي چې تصور وکړای شو او بدلون رامنځ ته کړو. کله چې معلومات په آزاد ډول په جريان کې وي وګړي په داسې وسايلو سمباليږي چې د خپل ژوند کنترول په لاس کې واخلي. کله چې د معلوماتو جريان د خنډونو سره مخا مخ کيږي که دا د سياسي يا تخنيکي لاملونو له امله هم وي، زموږ د ظرفيت د فعاليت مخنيوی کيږي.

۶۰ کاله تر مخه د بشري حقونو د نړيوالې اعلاميې طرحه کوونکو په ۱۹ ماده کې د دې اعلان وکړ چې د افکارو او د بيان د آزادۍ حق کې، "د افکارو د درلودلو آزادۍ پرته له مداخلې څخه او د رسنيو له لارې د معلوماتو لټول، لاسته راوړل او په معلوماتو کې شريکيدل، مفکورې تر لاسه کول پرته له هر ډول پولو څخه شامل دي." له هغه ځايه چې د نړيوال کيدو ګړنديتوب د آزادو، کثرت ګراوو او خپلواکو مسلکي مطبوعاتو پرمختګ ځواکمن کړی دی، نو د دې حق اهميت لا تر پخوا ډير جوت شوی دی. تکنالوژيکي پرمختګونو رسنيو او معلوماتی پوهی ته، ټولو ته د مساوي لاسرسی حق په خاطر، وده ورکړې ده.

آزادې، مصونې او خپلواکې رسنۍ د سولې د ډيموکراسۍ د بنسټونو څخه يو بنسټ دی. د رسنيو د آزادۍ پر ضد بريدونه د نړيوال قانون، بشريت، په خپله د آزادۍ او د بل هر هغه څه پر ضد بريدونه دي، چې ملګري ملتونه يې ملاتړ کوي. په دې توګه زه تر هر څه وړاندې په دې ډير اندېښمن شوې يم چې ژورناليستانو په ټوله نړۍ کې تر ګوزار لاندې راځي او په دې ډير اندېښمن يم کله چې دغه ډول جنايتونه په کره توګه نه څيړل کيږي او تر تعقيب لاندې نه راځي.
د مطبوعاتو د آزادۍ د نړيوالې ورځې په مناسبت او په دې کال کې کله چې موږ د بشري حقونو د نړيوالې اعلاميې ۶۰ مه کليزه لمانځو زه ټولې ټولنې دې ته را بولم چې پر ژورناليستانو باندې د بريدونو عاملينو د عدالت منګولو ته د سپارلو په لاره کې له هيڅ ډول هلو ځلو څخه دريغ و نه کړي. زه ټولو هغو کسانو ته درناوي څرګندوم چا چې په سختو او خطرناکو شرايطو کې کار کړی دی، څو موږ ته آزاد او بې تعصبه معلومات برابر کړي او زه د ټولو همکارانو څخه غواړم چې په هر ځای کې د مطبوعاتو د آزادۍ او مصونيت لپاره کار وکړي.